دافغانستان اسلامي امارت

د ارشـــاد، حـــج او اوقافـــو وزارت

د مساجدو او حُسَينيو د ارشاد او انسجام لوی رياست

دجمعې ورځې د خطابت موضوع او

ليکلی تقرير اوبيان چې د هیواد دمرکز او ولاياتو

ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي

۱۸/ شعبان المعظم/۱۴۴۷ هـ، ق مطابق ۱۷/ دلو/۱۴۰۴هـ، ش

# د منبر او محراب مسئوليت

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله الذي هدانا للإسلام، وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِيَ لَوْلَا أَنْ هَدَانَا اللَّهُ، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، جعل الإسلام ديناً وأمناً، وسعادةً ونجاةً يوم القيامة، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله، إمام المرسلين، وخاتم النبيين ، صلى الله عليه وعلى آله وصحبه والتابعين، ومن تبعهم بإحسانٍ إلى يوم الدين، وسلَّم تسليماً كثيراً، أما بعد:

قال الله سبحانه وتعالى: ( كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ وَجَدَ عِنْدَهَا رِزْقاً قَالَ يَا مَرْيَمُ أَنَّى لَكِ هَذَا قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ). آل عمران:(۳۷)

**درنو حاضرينو او پتمنو اوريدونکو!**

**السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.**

منبر او محراب په اسلام کې هغه مبارک ځايونه دي، چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اسلامي امت ته په ميراث کې راپاتي دي، منبر او محراب دوه مهم معماري او روحي مکانونه دي، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به د منبر له لوړې انسانانو ته الهي پيغامونه بيانول او په محراب کې به يې خپل خالق او رب ته سجده کيښودله.

منبر د اسلامي امت متحرک زړه دی او د اسلامي امت بليدونکې ډيوه او ددعوت او حق ويلو ژبه ده مسلمانانو په زړونو کې د منبر لوړه مرتبه ده اسلامي امت به هغه وخت خپل اصلي مقام او خپل بَرم او عزت بيا ترلاسه کړي، کله چې داسلامي امت علماء او حکام د منبر له منارې څخه مسلمانانو ته د سمې لارې رهنمايي وکړي او اسلامي امت يې انسي او نفسي دښمن ته متوجه کړي.

اسلام امت به هغه وخت خپل عزت او قوت ترلاسه کړي ، څه وخت چې منبر ته حقاني علماء پورته شي او په محراب کې د خلکو حقيقي معلمين او مربِّيان کيني .

په رواياتو کې راځي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به لوړی د یوې خرما ونې ډډ په څنګ کې په ولاړه مسلمانانو ته دالله تعالی دین بیانولو او بیا وروسته د رسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره منبر جوړ کړل شو.

په حدیث شریف کې راځي: عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ امْرَأَةً قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَلَا أَجْعَلُ لَكَ شَيْئًا تَقْعُدُ عَلَيْهِ فَإِنَّ لِي غُلَامًا نَجَّارًا قَالَ:« إِنْ شِئْتِ فَعَمِلَتْ الْمِنْبَرَ». البخاري (١/ ٤٥٩)

ژباړه: د حضرت جابربن عبدالله رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې یوې ښځې عرض وکړ ، چې ای د الله تعالی رسوله! آیا زه ستا لپاره داسې څه تیار نکړم چې ته ور باندې (د وعظ پروخت) کینې؟ بیشکه زه یو غلام لرم چې هغه نجار دی. نبي علیه وسلم ورته وفرمایل: که ستا خوښه وي (نو جوړ یې کړه)، نو هغه ښځې منبر جوړ کړ.

همدارنګه د محراب ذکر په قرآن کریم کې څو ځایه راغلی دی چې د محراب په اهمیت او ارزښت دلالت کوي.

په سورت مریم کې راځي:( كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ وَجَدَ عِنْدَهَا رِزْقاً قَالَ يَا مَرْيَمُ أَنَّى لَكِ هَذَا قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ). آل عمران:(٣٧)

ترجمه: هر کله به چې ننوت دې ته زکریا په محراب (په عبادت خانه ) کې نو موندله به یې له (مریمې) سره څه روزي(یعنې مېوې د ژمي په اوړي او مېوې د اوړي په ژمي کې). وویل (زکریا علیه السلام) ای مریمې له کومه (راغلې) ده تاته دا روزي وویل مریمې زکریا ته چې دا روزي له طرفه د الله ده بېشکه چې الله روزي ورکوي هغه چاته چې اراده وفرمایي (د روزي) ورکولو یې ډېر پرېمانه) بېحسابه.

د حضرت زکریا علیه السلام په باره کې راځي:( فَنَادَتْهُ الْمَلائِكَةُ وَهُوَ قَائِمٌ يُصَلِّي فِي الْمِحْرَابِ).آل عمران: (٣٩)

ترجمه:نو ور نارې کړې ده ته (زکریا ته) پرښتو (جبریل) حال دا چې دی ولاړ وو لمونځ یې کاوه په محراب کې.
په یو مبارک آیت کې راځي:(فَخَرَجَ عَلَى قَوْمِهِ مِنَ الْمِحْرَابِ فَأَوْحَى إِلَيْهِمْ أَن سَبِّحُوا بُكْرَةً وَعَشِيًّا).مریم: (١١)
ترجمه: پس ووت (زکریا علیه السلام) پر قوم خپل له خپل محراب څخه پس اشاره یې وکړه دوی ته داسې چې تسبیح وایئ تاسې په صبا او بیګا کې.
په قرآني اصطلاح کې د محراب څخه مراد د عبادت ځای، عبادت خونه او الله تعالی ته د قرُب لټولو مخصوص ځای.
په محراب کې هغه مبارک ځای ته اشاره ده په کوم ځای کې، چې بنده ګان دالله تعالی عبادت ، بندګي، راز او نیاز کوي.
په محراب کې پاکۍ او قدسیت ته اشاره ده او محراب د هغه پاک او مقدس ځای څخه عبارت دی، چې بنده په کې د ددُنیوي لذتونو او شهوتونو څخه ځان د الله تعالی عبادت ته فارغ کړی وي.

په قرآني اصطلاح کې د محراب څخه د الهی وحي ځای او د رب العالمین سره د تعلق جوړولو مکان مراددی.

محراب په مسجد کې یواځې د هغه مخصوص ځای څخه نوم نه دی په کوم ځای کې چې امام مسلمانانو ته لمونځ ورکوي او هغوی ته د هدایت سپیڅلې لار ښایي، بلکې محراب ددې ترڅنګ د تقوی او روحانیت ځای دی.

هروخت چې د مسلمانانو له ژوند څخه منبر او محراب غایب شول،هغه وخت به د مسلمانانو د زوال،کمزوری او سپکاوی شیبې وي.

منبر او محراب د مسلمانانو د وحدت اويووالي رمزونه دي، چې مسلمانانو په کې راټوليږي او د يو امام لارښوونو ته غوږ نيسي او د لمانځه پر وخت ټول په يو امام پسې اقتداء کوي.

منبر او محراب هغه اسلامي مکانونه دي، چې داسلامي أُمت هُويت منعکس کوي.

هرکله چې مسلمانانو منبرونه معطل کړل او محرابونه يې شړ کړل، دا به ددې علامه وي، چې اسلامي امت خپل رسالت ته شا اړولې ده، خپل هُويت يې له لاسه ورکړی دی او نور ددښمن او د نفس سره په جگړه کې ناکامه شوي دي.

منبر او محراب زيات مسئوليتونه لري، چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

**لومړی: منبر د الهي شرائعو او احکاماتو د اعلان دريز دی او محراب د شريعت د ښوونې او روزنې مقام دی.**

د اسلامي شرائعو د بيانولو لپاره مختلف وسائل او ځايونه موجوددي، لکه مدارس، درالحفاظونه، علمي مجالس، کتابونه او رسائل ، کتابخانې، مگر تر ټولو مؤثره وسيله هغه منبر دی. منبر هغه مبارک مقام دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د الهي احکامو د تبليغ لپاره ور څخه استفاده کړې ده. منبر د خپل جوړښت او موقعيت له امله عامو او خاصو ، لويانو او ځوانانو ته دپيغام رسولو لپاره خاص اهميت لري.

رسول الله صلی الله عليه وسلم ته به له منبر څخه خلکو ته د الهي احکامو او شرائعو په رسولو کې زياته استفاده کوله ، ځکه چې منبر له لارې الهي پيغام عامه ذهنونو ته ډير ژر رسيدلو او کله به چې نبي عليه السلام وحې وشوه او يا به ددې ضرورت پيښ شو چې عام خلک د يوې خاصې موضوع څخه خبر شي، نو هغه به منبر ته وختلو او  خلکو ته به يې په خطاب سره هغه موضوع او مسئله توضيح کړه او که چيرې کوم نوی حکم به نازل شوی ؤ ، هغه به يې خلکو ته بيان کړ. او د نبي عليه السلام صحابه کرامو او خلفاء کرامو هم منبر د همدې مسئوليت لپاره کارولو. په احاديثو کې او واقعاتو کې ډير ددې ذکر راغلی دی چې په خلکو کې کومه غير واقعې او يا د شريعت خلاف خبره خپره شوه، نو نبي عليه السلام به منبر ته وختلو او هغه غلط فهمي به تصحيح کړه او دهغې موضوع شرعي اړخ به يې بيان کړ. لکه په يو روايت کې راځي:  عن أبي حُمَيد الساعديِّ: أن النبي - صلَّى الله عليه وسلم - استعمل رجلاً من الأزد يُقال له: ابنُ اللّتبِيّة - قال ابنُ السَّرْحِ: ابن الأُتبِيَّة - على الصدقةِ، فجاء فقال: هذا لكُم، وهذا أُهْدِي لي، فقام النبيُّ - صلَّى الله عليه وسلم - على المنبر فحمِدَ اللهَ وأثنى عليه، وقال: "ما بَال العامِلِ نبعثه فيَجِيء فيقول: هذا لكم وهذا أُهدي لي، ألاَّ جلَسَ في بيت أمه وأبيه، فينظرَ أيُهْدَى ام لا؟» سنن أبي داود ت الأرنؤوط (٤ /٥٦٧)

ژباړه: د ابو حميد الساعدي رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې نبي عليه السلام مقرر کړو د ازد قبيلې څخه يوکس چې ابنُ اللّتبِيّة يا ابن الأُتبِيَّة ورته ويل کيده د صدقاتو د راټولو لپاره ، هغه راغی (له سفر څخه) او وه يې ويل دا ستاسو مال دی او دا ماته په ډالۍ کې راکړل شوی دی، نبي عليه السلام په منبر ودريدلو ، د الله تعالی حمد او ثنايې وويله او بيايې داسې وفرمايل: دا څه قسم عامل دی ، مونږ يې وليږو (د صدقاتو د راټولو لپاره) بيا هغه راشي او داسې وايې چې دا ستاسو د صدقاتو مال دی او دا مال ماته د ډالۍ په توگه راکړل شوی دی؟ ولې نه کيني د مور او پلار په کور کې ، چې وکتل شي چې ده ته ډالۍ ورکول کيږي که نه؟ که چيرې کوم آيت به نازل شو ، نو نبي عليه السلام به منبر ته وختلو او د الله تعالی له لورې نازل شوي حکم به خلکو ته ابلاغ کړ.

عن أنس بن مالك قال: كنت ساقي القوم ...فبينما نحن كذلك والقوم يشربون إذ دخل علينا رجل من المسلمين فقال: ما تصنعون؟ إن الله تبارك وتعالى قد نزل تحريم الخمر فأرقنا الباطية وكفأناها، ثُمَّ خرجنا فوجدنا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيه وَسَلَّم قَائِمًا على المنبر يقرأ هذه الآية ويكررها {إنما يريد الشيطان أن يوقع بينكم العداوة والبغضاء في الخمر والميسر ويصدكم عن ذكر الله وعَن الصلاة فهل أنتم منتهون} مسند البزار (١٤ /٧٢)

ژباړه: د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وايي زه قوم ته د شرابو ورکوونکی وم... مونږ په همدغه حالت کې و(يعني شراب به موڅښل) او قوم به شراب څښل ، چې ناڅاپه يو کس د مسلمانانو څخه پر مونږ راننوت او داسې يې وويل: تاسې څه شی جوړوی؟ بيشکه الله په تحقيق سره نازل کړ حراموالی دی شرابو، نو مونږ د شرابو لوښي چپه کړل او مونږ ورڅخه بس کړل، بيا مونږ ووتلو مونږ رسول الله صلی الله عليه وسلم پيدا کړ چې ولاړ ؤ په منبر باندې او دا آيت يې لوستلو او بيا بيا يې تکرارولو: {إنما يريد الشيطان أن يوقع بينكم العداوة والبغضاء في الخمر والميسر ويصدكم عن ذكر الله وعَن الصلاة فهل أنتم منتهون}.

که چيرې د افک واقعې ته ځير شو ، نو نبي عليه السلام د حضرت عائشې رضي الله عنها د پاکوالي لپاره د خلکو د خبرولو لپاره منبر دمهمې وسيلې په توګه استخدام کړ. په روايت کې راځي:(قالت عائشةُ رضي الله عنها: «فخرج رسولُ الله صلى الله عليه وسلم إلى الناس مسروراً فصعِدَ على المنبر فحمِدَ اللهَ وأثنى عليه بما هو أهلُهُ، ثم تلا عليهم بما نَزَلَ عليه في براءة عائشةَ» المغازي للواقدي ص: (٤٣٤/٢)

ژباړه: حضرت عائشه رضي الله عنها وايي ، پس ووتلو له کوره رسول الله صلی الله خلکو ته په داسې حال کې چې خوشحال ؤ او منبر ته وختلو ، نو د الله تعالی حمد يې وويله او د الله تعالی ثناء يې وويله هغه شان چې الله تعالی يې مستحق دی، بيايې خلکو ته هغه آيتونه ولوستل چې په ده نازل شوي ؤ په حق د براءت دعائشې رضي الله عنها کې.

همدارنګه د محراب مسئوليت دادی چې د قبلې جهت ورڅخه معلوم شي او په محراب کې امام مستقيم قبلې لورې ته مخ کړي او خلکو ته پنځه وخته د لمانځه امامت ورکړي او د لمانځه څخه علاوه خلکو ته د الله تعالی کتاب ولوستل شي او الله تعالی د راليږلي احکام خلکو ته ترجمه او ولوستل شي ترڅو خلک د خپل دين څخه خبر شي .

همدا راز د محراب مسئوليت يواځې په لمانځه کې نه خلاصه کيږي ، بلکې هغه عالم چې نظام يا خلکو کينولی دی دنده لري چې د ځوانانو د روزنې او زده کړې لپاره تعليمي پروګرامونه د لاس لاندې ونيسي او دځوانانو داسې ديني روزنه وکړي، چې دديني مسائلو ، حلالو او حرامو څخه خبر کړي او حقاني او ريښتيني مؤمنان ټولنې ته تقديم کړي.

د رسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کې د محراب مسئوليت داوو چې په لمونځونو کې به يې دخلکو نقصانونه او خللونه اصلاح کول او په عملي توګه به يې خلکو ته د عباداتو اداء کول ور زدکول.

په يو روايت کې راځي : عَنْ أَنَسٍ قَالَ صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- ذَاتَ يَوْمٍ فَلَمَّا قَضَى الصَّلاَةَ أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ فَقَالَ « أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّى إِمَامُكُمْ فَلاَ تَسْبِقُونِى بِالرُّكُوعِ وَلاَ بِالسُّجُودِ وَلاَ بِالْقِيَامِ وَلاَ بِالاِنْصِرَافِ فَإِنِّى أَرَاكُمْ أَمَامِى وَمِنْ خَلْفِى»صحيح مسلم (٢ /٢٨)

ژباړه: د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې مونږ ته لمونځ راکړ رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه ورځ، کله چې هغه لمونځ خلاص کړ، مونږ ته یې مخ راواړولو او وه یې ویله: ای خلکو ! زه ستاسې امام یم ،نو زما څخه مه مخکې کیږئ په رکوع کې او نه په سجده کې او مه مخکې کیږئ له ما څخه په قیام کې او مه مخکې کیږئ له ما څخه د لمانځه څخه په ګرځیدو کې (یعني په سلام ګرځولو کې).

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې د محراب مسئولیت داوو، چې د خلکو عقاید اصلاح کړي او د جاهلیت د زمانې د شعائر او معتقدات له منځه یوسي.

په یو حدیث شریف کې راځي: عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ قَالَ صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- صَلاَةَ الصُّبْحِ بِالْحُدَيْبِيَةِ فِي إِثْرِ السَّمَاءِ كَانَتْ مِنَ اللَّيْلِ فَلَمَّا انْصَرَفَ أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ فَقَالَ « هَلْ تَدْرُونَ مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ ». قَالُوا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ « قَالَ أَصْبَحَ مِنْ عِبَادِى مُؤْمِنٌ بِى وَكَافِرٌ، فَأَمَّا مَنْ قَالَ مُطِرْنَا بِفَضْلِ اللَّهِ وَرَحْمَتِهِ،فَذَلِكَ مُؤْمِنٌ بِى وَكَافِرٌ بِالْكَوْكَبِ وَأَمَّا مَنْ قَالَ مُطِرْنَا بِنَوْءِ كَذَا وَكَذَا. فَذَلِكَ كَافِرٌ بِى مُؤْمِنٌ بِالْكَوْكَبِ».صحيح مسلم (١ /٥٩)

ژباړه:د زید بن خالد جُهني رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې مونږ ته رسول الله صلی الله علیه وسلم لمونځ راکړ د سهار لمونځ د حُدیبیې په مقام کې وروسته له باران څخه چې په شپه کې شوی ؤ، کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له لمانځه څخه را وګرځیدلو خلکو ته یې مخ راواړولو او داسې یې وفرمایل: آیا تاسو پوهیږی چې ستاسو رب څه ویلي دي؟صحابه کرامو وویل: الله تعالی او د هغه رسول ښه پوهیږي.نبي علیه السلام وفرمایل چې الله تعالی وفرمایل: صبا کړ زما له بندګانو څخه په داسې حال کې چې ځینې کسانو ایمان درلود پر ماباندې او ځینو کافران وو (پر ماباندې) پس هغه چاچې (د شپې) وویل: پر مونږ باران وشو د الله تعالی په فضل او رحم سره ، نو دا هغه کس دی چې ایمان یې راوړی دی پر ما باندې او کافردی په ستورو باندې او هغه چاچې وویل: پر مونږ باران وشو د فلاني ستوري او فلاني ستوري په وجه، نو داسې کس کافر دی په ماباندې او مؤمن دی په ستوري باندې.

ملاعلي القاري رحمه الله وایې:(والأظهر أن النهي على إطلاقه حسما لمادة فساد الاعتقاد). المرقاة (٧ /٢٨٩٥)

ظاهره داده چې نهی مطلق ده د عقیدې د فساد د مادې د منځه وړلو په خاطر.

رسول الله صلی الله علیه وسلم به د اُمت ددیني زده کړې او فکري روزنې لپاره د منبر او محراب د اساسي وسیلو په حیث استفاده کوله.

منبر او محراب د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې ، دصحابه کرامو او خلفاء راشدینو په زمانه کې او د خیر القرون پر وخت کې د مدرسې کردار ادا کولو او خلکو ته به د منبر او محراب له لارې دین ور ښوول کیدلو او خلکو به د منبر او محراب له لارې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ویناوې ، د هغه نصیحتونه او ارشادات، حلال او حرام، جائز او ناجائز کارونه او خلکو به د منبر او محراب څخه د الله تعالی شریعت او الهي قوانین زده کول.

**۲- منبر او محراب د مهمو ملي او ټولنيزو موضوعاتو په اړه د مشورو او مناقشو ځايونه دي.**

امام المسلمين رسول الله صلی الله عليه وسلم به منبر او محراب د ملي او بين المللي قضاياوو او مسائلو لپاره د مشورو، بحث او د تصميم نيولو ځايونه گرځول. وروسته له هغې چې مسجدنبوي کې به صحابه کرام د لمانځه لپاره راټول شول، رسول الله صلی الله عليه وسلم به منبر ته وختلو او خپله خطبه به يې د هغې موضوع په اړه خلکو ته واوروله، کومه به چې واقع شوی وه، برابره خبره ده چې هغه به سياسي قضيه وه او که هغه ټولنيزه يا فکري او ديني موضوع وه چې بحث او مناقشې ته به يې ضرورت درلود. نبي عليه السلام به د خلکو نظرونه او تصميمونه د منبر په سر باندې بيان کړل ترڅو يوې نتيجې ته ورسيږي.د رسول الله صلی الله عليه وسلم دغه لار د هغه څخه وروسته خلفاوو هم تعقيب کړه.

د مثال په ډول په حديث کې شريف کې راځي:( عَنْ عَائِشَةَ، زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّ قُرَيْشًا أَهَمَّهُمْ شَأْنُ الْمَرْأَةِ الَّتِي سَرَقَتْ فِي عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةِ الْفَتْحِ، فَقَالُوا: مَنْ يُكَلِّمُ فِيهَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ فَقَالُوا: وَمَنْ يَجْتَرِئُ عَلَيْهِ إِلَّا أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ، حِبُّ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأُتِيَ بِهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَكَلَّمَهُ فِيهَا أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ، فَتَلَوَّنَ وَجْهُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: أَتَشْفَعُ فِي حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللهِ؟ ، فَقَالَ لَهُ أُسَامَةُ: اسْتَغْفِرْ لِي يَا رَسُولَ اللهِ، فَلَمَّا كَانَ الْعَشِيُّ، قَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَاخْتَطَبَ، فَأَثْنَى عَلَى اللهِ بِمَا هُوَ أَهْلُهُ، ثُمَّ قَالَ: أَمَّا بَعْدُ، فَإِنَّمَا أَهْلَكَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ أَنَّهُمْ كَانُوا إِذَا سَرَقَ فِيهِمِ الشَّرِيفُ تَرَكُوهُ، وَإِذَا سَرَقَ فِيهِمِ الضَّعِيفُ أَقَامُوا عَلَيْهِ الْحَدَّ، وَإِنِّي وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَوْ أَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ مُحَمَّدٍ سَرَقَتْ لَقَطَعْتُ يَدَهَا) (أعاذها الله). صحيح مسلم

ترجمه: د حضرت عائشې د رسول الله صلی الله عليه وسلم له بي بي څخه روايت دی چې بيشکه قريش په غم کې اچولي وو د هغې ښځې حالت چې غلا يې کړی وه د رسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کې په غزوه فتح کې . دوی په خپلو منځو کې وويل: څوک به خبری وکړي د رسـول الله صلی الله عليه وسلم سره په حق ددې ښځې کې؟ دوی وويل: په دې خبره بل څوک جرئت نشي کولای؛ مگر اسامه بن زيد رضي الله عنه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته محبوب شخص دی.

بيا اسامه ابن زيد هغه ښځه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راوستله او دهغې ښځې په اړه اسامه ابن زيد د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره خبری وکړی د رسول الله صلی الله عليه وسلم رنگ تغير وکړ او داسې وويل: آيا ته سفارش کوئ د الله تعالی له حدودو څخه په يو حد کې؟ اسـامه رضي الله عنه پيغمبرعليه السـلام ته وويل: زما لپاره ښښـنه وغواړه ای دالله رسـوله! کله چې لماسپخين شو رسول الله صلی الله عليه وسلم و دريده او خطبه يي ولوستله: په الله تعالی يې ثنا وويله هغسې چې الله تعالی يي حقدار دی. بيايي وويل: بيشکه هلاک شوي دي هغه خلک چې ستاسې نه وړاندې وو هغوی داسې وو چې کله به هغوی کې غلا وکړه کوم شريف شخص هغه به يي پريښود او کله به چې هغوی کې غلا وکړه کمزوري شخص په هغه به يي حد جاري کړ او په تحقيق سره، قسم په الله تعالی چې زما نفس د هغه په واک کې دی که چيرې فاطمه بنت محمد غلا کړی وای خامخا غوڅ کړی به مې وای لاس دهغې.

**۳-د منبر او محراب مسئولیت رعیت ته د جهاد او صلحې او غیر جنګي حالاتو بیانول دي.**

د اسلام په ځلانده تاریخ کې د جهاد لپاره د خلکو د اماده کولو او دأُمت په نفسونو کې د جهاد جذبه ژوندۍ ساتل او د اسلام څخه ددفاع په موخه د مسلمانانو په زړونو کې د جهاد لمبه بله ساتل د منبر او محراب مسئولیت ؤ او په دې باره کې د منبر لوی رول او مهم مسئولیت ؤ

د اسلامي مقدساتو،اسلامي شعائرو او دمسلمانانو دخاورې څخه ددفاع په موخه منبر او محراب تل د جهاد شعور د خلکو په زړونو تازه ساتلو او منبر د اسلامي دعوت په مخ کې د هر ډول خنډ په باره کې د لوړې منارې کردار اداء کړی دی.

او له منبر څخه به د جهاد د لومړیو صفونو څخه خبرونه خپریدل. د غزوه مؤته له میدان څخه چې کله خبرونه د وحی په ذریعه نبي علیه السلام ته رارسیدل ،نو نبي علیه السلام په مدینه منوره کې د جهاد حالات او د شهیدانو احوال صحابه کرامو ته دمنبر د سرڅخه بیانول.

په یو روایت کې راځي: (أَمَّا بَعْدُ، فَإِنَّ إِخْوَانَكُمْ لَقَوُا الْعَدُوَّ فَأَخَذَ الرَّايَةَ زَيْدُ بْنُ حَارِثَةَ، فَقَاتَلَ حَتَّى اسْتُشْهِدَ، ثُمَّ أَخَذَ الرَّايَةَ جَعْفَرٌ، فَقَاتَلَ حَتَّى اسْتُشْهِدَ، ثُمَّ أَخَذَ الرَّايَةَ عَبْدُ اللهِ بْنُ رَوَاحَةَ فَقَاتَلَ حَتَّى اسْتُشْهِدَ، ثُمَّ أَخَذَ الرَّايَةَ سَيْفٌ مِنْ سُيُوفِ اللهِ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ فَفَتَحَ اللهُ عَلَيْهِ). المعجم الكبير للطبراني (١٣/ ٧٩)، وهو صحيح.

ژباړه: أما بعد: بیشکه ستاسې ورونه د دښمن سره مخامخ شوي دي ، نو بیرغ زید بن حارثه رضي الله عنه په لاس کې ونیولو، هغه جګړه وکړه ترڅو چې شهید شو، بیا بیرغ جعفر رضي الله عنه په لاس کې ونیولو او جګړه یې وکړه ترڅو هغه هم شهید شو ، بیا بیرغ عبدالله بن رواحه په لاس کې ونیولو ، نو هغه هم جګړه کوله ترڅو چې هغه هم شهید شو، بیا بیرغ د الله تعالی له تورو څخه یوې تورې خالد بن ولید ونیولو او الله تعالی د هغه فتحه د هغه په برخه کړه.

إلى غير ذلك من وظائفَ يستحيلُ حصرُها ويدومُ تجدُّدُها بتجدُّدِ الزمنِ وتطوُّرِه، والحمد لله.

**۴-منبر او محراب مسئولیت ددولت د رسمي قراراتو او فیصلو صادرولو ځایونه دي.**

د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د خلفاء راشدینو پر وخت کې د منبر او محراب مسئولیت داوو چې د منبر له سر څخه به دولت او حاکم نظام دولتي رسمي فیصلې، قرارونه او دولتي تصمیمونه خلکو ته اعلانیدل. لکه حضرت عمر فاروق رضي الله چې د دولتي املاکو او ځمکو په اړه فیصله خلکو ته د منبر له سر څخه اعلان کړه.

په یو روایت کې راځي، چې عمر رضي الله عنه په منبر باندې خلکو ته داسې وویل:(مَنْ أحيا أرضاً ميتةً فهي لَهُ وليس لمحتجرٍ حقٌّ بعد ثلاث سنين).كتاب الخراج، للامام ابويوسف: ص: (٦٥)

ژباړه: چاچې آباده کړه مړه ځمکه (شاړه دولتي ځمکه) ،نو هغه د هغه شوه او نشته د کاني ایښودونکي لره حق په احیاء الموات کې وروسته د درې کلونو څخه.

ځینې کسانو به ددولتي ځمکو او مړو ځمکو څخه کاڼي راتاو کړل او نور به یې په کې کار نه کولو، نو حضرت عمررضي الله ددولت تصمیم داسې خلکو ته اعلان کړ.

**وفقني الله واياكم لمايحب ويرضاه**